


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!





فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا



د نشر نيټه : ۷ جولای ۲۰۱۳ ميلادی


# د دې دور زمانې وګړو واورئ

د دې دور زمانې وګړو واورئ
تاسو ولې دقتال توره را خيستې
بر ناحقه بې ګنا انسانان وژنئ
تياره مخيو د رڼا څراغان وژنئ
د دې دور زمانې وګړو واورئ
ملګرتياد تاريکيو دخمود کړئ
ملګرتيا د لوی يزيد او دنمرود کړئ
ولې تاسو دا دکرکې بد بينی لاره روانه
ولې تاسو دا دجنګ او بد بختی لاره روانه
زه دميني فلسفه درته راوړمه
بدرنګ مخيو بدرنګ مخيو
دښکلا يوه نغمه درته راوړمه
تاسو ځان ته دشهرت په تمه ناست يئ
دغرور او دلذت په تمه ناست يئ
دا مو وباسئ له زړه نه
چې شهرت ته رسيدل به
د غرور پر لارته تګ وي
خو غرور يوازې يو خدای ج سره ښايي
چې نړی او کاينات يې دي په واک کې
د دې دور زمانې وګړو واورئ
زه دميني لاروی يم
زه انسان يمه سړی يم

زما زړه د کاڼي نه دی
د لیلو دلاس بنګړی یم
زه شورش غواړمه شرنګ ماته پکار دی
خاموشیو سره جنګ ماته پکار دی
زه دکرکې،بد بینی پرلاره نه ځم
خلک نه وژنم بدی پرلاره نه ځم
ځکه زه په داسي قوم او خیل کي اوسم
چې نفوس یي خورا ډیر ترتاسو کم دی
دغه خیل ښایم وګړو
مینه خیل ښایم وګړو
او یو بل خېل چي نفوس یي بلا زیات دی
هغه خیل ښایمه تاسي
کرکه خیل ښایمه تاسي
د دې دور زماني وګړو واورئ
په دې پوه شئ چي داولي؟
او داڅنګه؟
دا په دې چي زه او تاسو
لکه ضد او د نقیض کلیمي دواړه
په یوبل ورتللی نه شو
د پښتو متل دی وایي:
غر په غر ورتللی نشي
خوانسان په انسان ورشي
لکه غرونه په یوبل ورتللی نشو
د دې دور زماني وګړو واورئ
ما هم ومنئ دمیني پیغمبر یم
زه دشر او دفساد لپاره نه یم
زه د ټولو مینه خیلو لوی رهبر یم
د دې دور زماني وګړو واورئ
د دې دور زماني وګړو شه مو
مخته ښه زیري ګلونه
مخته ښه زیري ګلونه
****

فرید احمد « تسکین »
پکتیا کور
۳۰/۱/۱۳۹۲وری

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org